## [دوولسمه معلوماتپاڼه] د فیډبک ډولونه

د فیډبک د منځپانګې (محتویاتو) ماهیت ته په پام، فیډبک په لاندې ۸ کټګوریو وېشل کېږي:

۱. **پوښتنې:** د خلکو له خوا د هغو شیانو په هکله څرګندونې چې دوی غواړي پرې پوه شي، یا یې په اړه شکایت وکړي، او هغه شیان چې حل او بحث ته اړتیا لري.

۲. **وړاندیزونه:** د ستونزو د حل د څرنګوالي یا د هغه څه په هکله د ټولنې نظرونه چې یو سازمان/اداره یې کولای شي تر دې هم په ښه او متفاوته توګه ترسره کړي.

۳. **اندېښنې:** یوه کس ته په زړه پورې یا د اهمیت وړ موضوع چې ښايي د اندېښنې یا اضطراب لامل شي.

۴. **ستاینه:** د هغه څه د اهمیت یا کیفیت پېژندنه او په اړه یې مننه څرګندول چې سازمان د یوه کس یا یوې ټولنې لپاره ترسره کړي.

۵. **د یوه پروګرام په هکله شکایتونه:** هغه فیډبک چې د یوه پروګرام د محدودې یا کیفیت او د دې پروګرام د درک شوې یا ربښتینې او ناکافي محدودې، کمزوري کیفیت او ناوړه پرېکړو په هکله نارضایتي څرګندوي.

۶. **د کارکوونکي د چلند په هکله شکایتونه** (یعنې حساس فیډبک): د کارکوونکو، داوطلبانو، عرضه کوونکو او شریکانو/همکارانو په هکه د نارضایتی څرګندول او تور پرې لګول چې د اداري د چلند د اصولو څخه سرغړونه کوي. په دې سرغړونو کې لاندې شاملېږي:

- جنسي استثمار او ناوړه ګټه اخیستنه (د مرستندویه کارګرانو له خوا د مرستې، د جنسي خدماتو د پېرودلو یا په نورو استثماري جنسي چلند کې ښکېلېدلو په بدل کې د جنسي اړیکو غوښتنه)
- د جنسیت پر بنسټ جنسي تاوتریخوالی (د یوه کس پر وړاندې جنسي او د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی)
- فساد (د یوه خدمت یا مرستې په بدل کې له یوه کس څخه د بډې (پیسو) غوښتنه)
- باج اخیستنه (له یوه کس څخه په زور او د ګواښلو له لارې د یو څه یا معمولاً پیسو ترلاسه کول)
- درغلي (یو کس د مالي یا شخصي ګټې د ترلاسه کولو په موخه بل کس غولوي)
- فزیکي یا لفظي ځورونه
- پلویتوب (یوه کس ته د بل کس یا ډلې پر وړاندې ناعادلانه ترجیح ورکول)
- خپلویتوب (خپلو خپلوانو یا ملګرو ته د دندې ورکول)
- د چلند د اصولو پر خلاف د سرغړونو نور موارد

حساس فیډبک ته د رسیدګی لپاره ځینې ځانګړې تګلارې لري.

۷. **ګواښونه:** د ټولنې د غړو یا نورو اړوندو ښکېلو اړخونو له خوا کارکوونکو، داوطلبانو، عرضه کوونکو یا همکارانو/شریکانو ته ګواښونکي پیغامونه یا پروړاندې یې ګواښوونکي اقدامات.

۸. **آوازې/ډنډورې**: هغه ناسم او شکمن معلومات یا ناسمې کیسې چې دقت یې تر پوښتنه لاندې وي او ښايي د خلکو د ناسم/غلط پوهاوي لامل شي. ډنډورې مهم معلومات دي ځکه کولای شي د یوې ټولنې د هغو وېرو، افسانو، هیلو او اندېښنو په هکله معلومات وړاندې کوي چې کولای شي د خلکو روغتیا او روغتیايي جوړښتونه او دغه راز د یوه سازمان شهرت او باور زیانمن کړي. که چېرې آوازو ته رسېدګي ونه شي، په ټولنه کې زموږ د منښت کچه راټیټوي او په دې توګه د کارکوونکو خوندیتوب له خطر سره مخامخ کېږي. ډنډورې یا آوازې د ځان د درد په څېر دي – ډېری وخت ناراحت کوونکې وي مګر په ورته وخت کې کټورې هم وي ځکه دا په ګوته کوي چې یو څه سم نه دي.

د عامه افکارو د اغېزمنولو یا د حقیقت د پټولو په موخه په لوی لاس (عمدي توګه) د غلطو معلوماتو خپرولو ته "ناسم معلومات" وایي.

سرچینه: د سره صلیب نړیوال فدراسیون (۲۰۲۰)، د روغتیا نړیوال سازمان (۲۰۱۸)، مېرسي کورپس (۲۰۱۷)، کاتولیک مرستندویه خدمات (۲۰۱۳)